د ملگرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱ – ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پاڼه: www.unama-afg.org


**رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)**

**ډاکتر رامیش پینومیکا د ملگرو ملتونو د نفوسو د پانګی مشر په افغانستان کی**

**آغلی نیلاب مبارز د یوناما د ویاند د دفتر ښځه**

*کابل- د جولای د میاشتی څوارلسمه نیټه کال ۲۰۰۸*

**یوناما:** سهار مو په خیر. زما نوم نیلاب مبارز دی زه د یوناما د ویاند له دفتر څخه یم او تاسو ته بنه راغلاست وایمږ زموږ میلمه ویاند د ملګرو ملتونو د نفوسو د پانګی مشر په افغانستان کی بناغلی رامیش پینومیکا دی چی هغوی به تاسو ته د وګړو د نړیوالی د ورځي په مناسبت معلومات درکړی. د سږکال د وګړو د نړیوالی ورځی موضوع ده ؛ د مور روغتیا، دا یو حق دی راځی چی په حقیقت یی واړوو؛ مخکی له دی چی ډاکټر پینومیکا ته وروګرځو، غواړم یو څو لنډ رپوټونه تاسو درووړاندی کړم.

## یوناما په ارزګان کي ځانمرګي بمي برید غندي

موږ ټول په یوناما کی د ارزګان ولایت د دهراود ولسوالی په بازار کي د تیرې ورځي ځانمرګي بمي برید، چي د یو شمیر ملکیانو او پولیسو ژوند یي واخیست په سختو الفاظو سره محکوموي.

د عادي ملکیانو چي سودا یي پیرودله او پولیسو چي خپله دنده یي ترسره کوله او د افغانستان په بیا ودانولو کي یي مرسته کوله په نښه کول په بشپړ ډول د بي ګناه وګړو ژوند ته بي اعتنایي او سپکاوی دی.

## د امنیت شورا ته د ملګرو ملتونو د سرمنشي او د هغه د استازي رپوټ

د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی کای ایده د جولای په ۱۰ په نیویارک کي و چي د امنیت شورا ته د پاریس د کنفرانس د پایلو او د افغانستان د راتلونکی په اړه رپوټ ورکړي. دهغی پیاوړی پیام د امنیت شورا دا او چي پس له دی کارونه نشی کولای چی د پخوا په څیر په افغانستان کی ادامه وړومی.

د امنیت شورا په پاریس کي د افغانستان د ملاتړ د تیرې میاشتي د کنفرانس د پایلو ستاینه وکړه چي په هغه کي تر ۲۰ میلیونه زیاتو ډالرو ژمني د دغه هیواد د پراختیایي ستراتیژی لپاره وشوې او د افغانستان د دولت او نړیوالي ټولني تر منځ یي شراکت پیاوړی کړ.

د مشرتابه په یوه وینا کي د امنیت شورا هغه کلیدی عناصر تائید کړل چي د جون د ۱۲ د پاریس په اعلامیه کي د افغانستان د خلکو د امنیت او سوکالي لپاره بنسټیز ټکي بلل شوي دي. لکه د هغو آزادو، مناسبو او خوندي ټول ټاکنو د سرته رسولو د اهمیت په ګډون چي په ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونو کي به ترسره شي، انساني حقونو ته د درناوي تضمین او د بشري مرستي برابرول او د دې ارتیا چي دا مرستي لا بهترې شي ترڅو ډاډ تر لاسه شي چي د پراختیا ګټي به د هر افغان لپاره محسوسي وي.

د امنیت شورا همدارنګه د افغانستان په باب هغه رپوټ تائید کړ چي د سرمنشی بانکی مون له خوا وړاندي شو چي تاسو کولای شي د هغی دری، پښتو او انګلیسی زموږ څخه ترلاسه کړی. هیله لرو چي دا تاسو ولولئ او کو چیری د هغه په اړه کوم سوال لری نو پس له کنفرانس څخه زموږ سره اړیکه ټینګه کړئ.

سرمنشي په افغانستان کي د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوی (یوناما) د پیاوړي کولو په باره کي ځانګړي وړاندیزونه وکړل، چي په دې توګه دغه پلاوی کولای شي د افغانستان خلکو ته لا ښه خدمت وکړي. موږ د ته سترګي په لاره یاستو چي په راتلونکي میاشتو کی د یوناما کارکوونکي او دفترونه ډیر کړو.

## د ملګرو متلونو د کډوالو اداره د ارغنداب په بېځایه شویو خلکو مرستي ویشي

د ملګرو متلونو د کډوالو اداري کندهار ته نږدې د ارغنداب په ولسوالی کي پرون ۲۰۰۰ کورنیو ته د ناخوړو توکي واستول. د پلاستکي ترپالونو او د اوبو د ترموزونو او همدارنګه د نړیوال خوراکي پروګرام له خوا د خوراکي توکو ویشنه هم په دې اوس وخت کي جریان لري.

دا د ملګرو ملتونو د نمایندګیو له خوا د اساسي توکو دوهمه دا ډول ویشنه ده د هغوي کورنیو لپاره چي تر ټولو زیانمنیدونکي دي او د ارغنداب په ولسوالی کي د جون د شخړي له کبله بېځایه شوي دي.

د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري په مرسته کې ۲۰۰۰ پلاستکي ترپالونه او ۲۰۰۰ د اوبو ترموزونه د ۲۰۰۰ کورنیو لپاره شتون لري. دغه توکي به د ارغنداب په ولسوالی کې د ناوړه پیښو د کنترول د کمیټې له لارې و ویشل شي.

## یونیسف په سرپل کې د دوو نوي ښوونځي ودانوي

۲۵۰۰ د ښوونځي زده کوونکي به له هغو نویو ښوونځیو څخه ګټه واخلي چې په سرپل کې جوړیږي. یونیسف د دوو ښوونځیو د ودانولو لپاره مرسته برابره کړې ده: د سرپل په ولایت کې دغه ښوونځي د انګوټ او ادرینګ بلغالی ښوونځي نومیږي. دغه ښوونځي به د ځایي ټولني او یونیسف په مرسته ودان شي. دغه ښوونځي به په څلورو میاشتو کې جوړ شي.

او موږ خوشاله یو دا ووایو، چې ۸۳۰ نجوني او ۹۵۰ هلکان به د ادرین بلغالی ښوونځي ته ځي . او ۳۱۵ نجوني او ۲۴۰ هلکان به د انګوټ ښوونځی ته ځي.

## د نفوسو نړیواله ورځ

ګرانو دوستانو سهار مو په خیر
د ملګرو ملتونو د نفوسو د پانګي/وجهی صندوق په استازیتوب زه ویاړ لرم چې نن دلته له تاسو سره د نفوسو د نړیوالي ورځي په لمانځلو کې ګډون کوم. په دغه موقع زه غواړم د ملګرو ملتونو د نفوسو د موسسي (UNFPA) ټینګه ژمنه بیا تکرار کړم، چې د افغانستان له خلکو سره به د هغوي په دې هڅو کې مرسته کوي چې سخته بیوزلي او لوږه له منځه یوسي او خپله روغتیا بهتره کړي.

دا یوه مناسبه موقع ده چې هغو پرمختیاوو ته وګورو چې افغانستان د میندو د روغتیا په برخه کې کړي دي او هغه ننګونې چې د زریزې د پراختیایي مرامونو په لاسته راوړلو او د افغانستان د ملي پراختیا د ستراتیژی په هدفونو کې ورسره مخ دی.

څرنګه چې تاسو پوهیږي د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژي په څرګنده توګه د میندو د روغتیا اهمیت درک کوي او د مور او ماشوم د مړیني د کچو راکمولو ته په لومړ اهمیت قایل دی، چې د هر معیار له مخې دغه کچې لوړې دي. د عامې روغتیا وزارت یوه هر اړخیزه د زیږون پالیسي لري. په دا تیرو شپږو کلونو کې په ټول هیواد کې خلکو ته د روغتیایي خدمتونو په سرته رسولو کې مهم پرمختګ شوی دی.د نفوسو په سلو کې ۸۵ روغتیایي اسانتیاوو ته لاس رسي لري. ۱۶۰۰۰ د ټولني روغتیا پالان په ټول هیواد کې په فعالیت بوخت دی؛ د دایي ګانو د روزنې د مرکزونو په شمیر کې ستر زیاتوالی راغلی دی او ۹۰ په سلو کې د روغتیا اسانتیاوې لږ تر لږه یوه فعاله ښځینه روغتیا پاله لري. په داسې حال کې چې په ۲۰۰۱ کال کې د امیندوارو میندو څلور په سلو کې له روغتیایي مسلک څخه پاملرنه تر لاسه کړه، کابو ۳۰ په سلو کې میندو لږ تر لږه یو ځلي په ۲۰۰۷ کال کې دا ډول پاملرنه تر لاسه کړه.

خو دا موږ باید د مبارکی په ځپو کې ډوب نه کړي. کوم پرمختګ چې تر اوسه پوري شوي دی مهم دی خو د بسنې برید ته لا هیڅ نږدې هم نه دی. ننګونې خورا ستري او ډیرې دي، په دغو ننګونې کې تر ټولو ستره ننګونه د هغو میرمنو حیرانونکی شمیر دی چې له نیمګړې روغتیا او خوار خواکی څخه ځوریږي او دغه میندی کله چې بل زیږون کوي خپل ژوند له لاسه ورکوي. تاسو خبریاست چې افغانستان د اسیا پسفیک یا آرام سمندر په سیمه کې د میندو د مړیني تر ټولو لوړه کچه لري او په نړی کې دوهمه خورا لوړه کچه ده. په یو لک ښځو کې کابو ۱۶۰۰ د ماشوم په زیږون کې خپل ژوند له لاسه ورکوي. د بدخشان په ځیر ولایتونو کې دغه شمیره ۶۵۰۰ په یو لک کی ده، دا کیدای شي چې په لیرې او هغو داخلي سیمو کې لا هم لوړ وي. مهمه خبره دا ده چې تقریباً دا ټولی پیښی د مخنیوی وړ دي. ۲۴۰۰۰ ښځې هر کال مري او د دغو مړینو ۸۷ په سلو کې د مخنیوی وړ دي. کله چې موږ دا غونډه پای ته رسوو یو چیرې په افغانستان کې به ۲ ښځې د ماشوم زیږوني په وخت کې مړې شوي وي.

د دی لپاره ډیر لاملونه شته. نجوني په ډیر کم عمر کې ودیږي، چې د هغوي په سلو کې ۵۰ یې حتی د ۱۵ کلنی د عمر د مخه او ځيني نور يي همدارنګه د ۸ کلنی تر مخه واده کیږي. د دې سربیره د اولاد راوړلو کچه

د ښځو په واسطه ډیره لوړه ده، چې د ۶،۷ څخه پورته ده او د زیږیدنو تر منځ واټن ډیر کم دی. که چیرې دا د ایران د زیږیدنو د اندازې سره پرتله شي چې هغه ۱،۲ دي او په پاکستان کې ۳،۴ دي. څیړنې جوتوي چې د زیږیدنو تر منځ واټن د ژوند د ژغورنې لامل ګرځي او میندو ته اجازه ورکړي چې د خپلوماشومانو تر منځ روغتیایي واټن راولي او ددې سره د میندو او د هغوي د ماشومانو ژوند ښه کیږي.

څرنګه چې ما مخکې وویل د هیواد ۸۵ په سلو کې وګړی روغتیایی خدماتو ته لاس رسی لري خو فزیکی لاس رسی دغو مرکزونو ته ډیره محدوده ده. په ۲۰۰۷ کال کې یوازې په سلو کې ۱۸ زیږوني د ماهرو قابلو له خوا ترسره شوې دي. پاتې په سلو کې د ۸۲ میندو د زیږونی د ماهرو قابلو په نشتوالی کی او یا د روغتیایی کارکوونکو په نشتوالی کی ماشومان زیږولي دی چې دا پخپله د ماشوم او مور د مړیني لامل ګرځي. په داسې حال کې هغو ځایونو کې چې دغه ډول آسانتیاوې شته هلته د معارف کمښت وګړې په تیره بیا سړې دې ته نه پریږدي چې میرمنې د دغو اسانتیاوو ته د ګټې اخیستنې لپاره بوځي.

د میندو د ښې روغتیا حل لاره د نارینه وو سره پرته ده او هغوي باید د ښځو د اړتیاوو او روغتیایي ستونزو په اړه حساس اوسي. دا یوازې د ښځو مسله نه ده دا مسله په میړونو، پلرونو، ورونو او زامنو پورې هم اړه لري او هغوي باید د میندو د مړیني او ناروغیو د مخنیوی پر ضد په مبارزه کې ښکیل شي. دا زموږ د ټولو ګډ مسوولیت دی چې هره مور د زیږون ښه ژوند ولري. د زیږون تر منځ واټن او د باروری د میزان د کچو کموالی د کورنی د روغتیا او غربیی د کمولو لپاره ډیر مهم دی. که چیرې د زیږون کچې راکمې نه شي د افغانستان د وګړو شمیر به تر ۲۰۵۰ کاله دوه برابره شي، د نړدې ۴۷ زیات نفوس لرونکو هیوادونو له جملې څخه به افغانستان د نړۍ په کچه د زیات نفوس لرونکو هیوادو ۳۱ درجې ته ورسیږي.

په دې برخه کې ملګري ملتونه دې ته ژمن دي چې د افغانستان د حکومت او د پرمختیایي همکارانوملاتړ وکړي چې د دې باور تر لاسه شي چې هیڅ یوه ښځه باید د زیږون پر مهال و نه مري. دا هغه لید او مفکوره ده چې یو ان ایف پی آي یي په افغانستان کې پلي کوي. د افغانستان د پرمختیایي ستراتیژۍ په پام کې لري چې د ۲۰۱۲ کال پورې د میندو د مړیني کچه په سلو کې ۱۵را ټیټه کړي.

یو ان ایف پی ای د بیا زیږونکي روغتیا په اړه نړیوال لاس رسی ته د رسیدو په موخه ژمنه ده او همدارنګه باید د هرې امیندوارې د غوښتل کیدو، د هر خوندي ولادت او هرې نجلۍ او ښځې سره د درناوي او وقار پر بنسټ د چلند په هکله ډاډ حاصل شي. د اړتیاوو د معلومولو، د بیا زیږونکي روغتیا د متاع، د ملاتړ د برابروالی او د معلوماتو د موجودیت په هکله ډاډ او د هرې ښځې او نارینه لپاره فامیلي پلانینګ ته د لاس رسي په موخه د حکومت، مدني ټولني او نورو پراختیایي شریکانو سره د ملګرو ملتونو د نمایندګیو په شمول شراکت ډیر حیاتی دی.

زه غواړم د دې فرصت په کارولو سره په تمویل کوونکو نمایندګیو، د افغانستان په حکومت، د مدني ټولنې په سازمانونو، ډله ییزه رسنیو او هر هغه چا باندې چې د دې هیواد د راتلونکي لپاره فکر کوي غږ وکړم څو د میندو د مرګ مړینې او د ناروغتیا د کچو د راکمولو لپاره او همدارنګه په ټولنه کې ښځو د وضعیت د ښه کولو لپاره خپل ځانونه بیا وقف کړي.

مننه

**د پوښتنو او ځوابونو برخه:**

**د کلید راډیو:** تاسو د یوناما د پراختیا په اړه وویل، آیا تاسو کولای شئ چې په دې اړه څه تفصیل ورکړئ؟ او دوکتور رامیش، تاسو وویل چې ۲۴۰۰۰ ښځې هر کال مري، تاسو دغه شمیره څنګه کره کوئ او د دې سرچینه کومه ده؟

**یوناما:** په هغه ځانګړی رپوټ کې چې د ملګرو ملتونو سرمنشي بانکی مون د امنیت شورا ته وړاندې کړ هغه په دې اړوند د یوناما نقش په افغانستان کې وستایلو. د یوناما د کارپوه پرسونل د شمیرې زیاتوالی د یوناما د دندې په بریالیتوب سره د ترسره کولو لپاره ډیر ضروري دی. په پام کې دي چې لا زیات محلي او نړیوال کارمندان په داسې ډګرونو کې لکه انتخابات، د افغانستان د ملي پرمختیا د ستراتیژۍ تطبیق، د افغانستان د

موسسو ځواکمنتیا، د مرستو اغیزمنتوب او تر ټولو د مهم سکټور اغیزمنتیا چې هغه بشري مرستې دي، په دندو وګومارل شي. په راتلونکو میاشتو کې به موږ خپلې دفترې په هغو ځایونو کې چیرته چې موږ دفترونه نه لرو پرانیزو.

**یو ان ایف پی ای:** د زیږون پر مهال د میندو د مړینې احصائې پر هغو احصائیو ولاړې دي چې په ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ کلونو کې سروې ترسره شوې دي. هغه شمیرې چې ما یې یادونه وکړه د ۲۰۰۴ کال پر احصائیو ولاړې دي. زه یوازې غواړم د دې یادونه وکړم چې د میندو د مړینې شمیره په لنډه موده کې په زیاته اندازه نه شي را پریوتلای. دا ډیر کلونه او حتی ډیرې لسیزې په کار لري چې د میندو د مړینې د شمیرې په برخه کې اغیزه ولري. جوته ده چې د روغتیایي خدمتونو د پراختیا سره کیدلای شي د پام وړ اغیزه ولري. خو د عمر د کموالی له امله وادونه،د زیږونو تر منځ واټن، روغتیایي خدمتونه ته رسیدنه او د ماهرو قابلو روزنه یوه اوږد مهاله پروسه ده.
د ۲۰۰۴ کال سروی یوه هیواد شموله او هر اړخیزه سروې وه. دلته یو وړاندیز شته چې سږ کال یوه بله سروې په لاره واچول شي چې هغه به د روغتیا د وزارت سره مرسته وکړي. کله چې په ۲۰۱۰ کال کې نفوس شمیرنه ترسره شي نو په دې صورت کې به د میندو د مړینې په اړه ډیر کره ارقام تر لاسه شي.

**صبح بخیر افغانستان:** زما پوښتنه په دې اړه ده چې په سلو کې ۸۰ وګړي روغتیایي خدمتونو ته رسیدنه لري. د دې لپاره ستاسو سرچینه څه ده؟ او که چیرې دغه شمیره د افغانستان د حکومت څخه وي نو هغه کره نه ده. دغه شمیره حتی ستاسي د خپلې وینا سره تناقض لري چې د میندو د مړینې په اړه مو د بیلګې په توګه د بدخشان په اړه یاده کړله.

**یو ان ایف پی ای:** دلته دوه مسلې دي. هغه څه چې د میندو د مړینې په سروې پورې اړه لري دا یوه خپلواکه سروې وه چې په نړیواله کچه اوملي کچه ترسره شوې وه. دا هغه شمیره ده چې نږدې والی لري او هغه څه چې واقعیت دي. دوهمه شمیره چې د روغتیا د وزارت د معلوماتي سیستم د مدیریت څخه تر لاسه شوې ده چې هغه یو د شمیرو کارت لری او د جانز هاپکین د پوهنتون له خوا څارل کیږي. زه دا نه وایم چې په سلو کې ۸۰ وګړي د روغتیایي خدمتونو څخه ګټه اخلي خو په تخنیکي لحاظ په سلو کې ۸۰ وګړي روغتیایي اسانتیاوو او مرکزونو ته رسیدنه لري که چیرې یو له هغو څخه غوره شي او خلک د هغه په اړه خبرتیا ولری او ورته اجازه ورکړ شئ چې د هغو څخه ګټه واخلي.

**هشت صبح ورځپاڼه:** زه د ټول ټاکنو د خپلواک کمیسیون د وروستنی وینا په اړه غواړم پوه شم چې هغه ویلي دي د انتخاباتو د شاته کیدو امکانات شته. زه غواړم چې د یوناما په نظر پوه شم چې امنیتي وضع څومره جدي ده چې دغه ټول ټاکني شاته وغورځول شي؟

**یوناما:** د ټول ټاکنو په هکله باید و وایم چې دا یو پیچلي پروسه ده او باید د ټول هیواد په کچه ترسره شي. لکه څرنګه چې تاسي پوهیږي هر هغه هیواد چې د جګړې نه وروسته حالت سره مخامخ وي او یا هغه هیوادونه چې د ټول ټاکنو پر مهال امنیتي ستونزې ولري نو د یو ډول ستونزو سره مخامخ کیدای شي، دا په دې مانا نه ده چې موږ امنیتي ستونزې کم ارزښته شمیرو او دا به له وخته وړاندې وي چې د ۲۰۰۸ کال د جولای په میاشت که و ویل شي چې امنیتي وضیعت ښه نه دی، نو د ټول ټاکنو وخت دې وځنډول شي.

بل مهم شی دا دی چې موږ تر راتلونکو ټول ټاکنو ډیر کم وخت لرو او د دې لپاره دا ډیره مهمه ده چې د ټول ټاکنوپه پروسه کې ټول ښکیل شریکان باید خپلې تیاری ونیسي او دا بیره موږ د هغوی په چمتووالی کی وینو. یوناما د افغانستان د ټول ټاکنو د خپلواک کمیسیون سره د هیواد د آزاده، عادلانه او خوندي ټول ټاکنو په دایرولو کې د کال ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ لپاره مرسته کوي.

**راه نجات ورځپاڼه:** تاسو په خپل رپوټ کې وویل چې د پاریس د کنفرانس مرستې به په ټولو ولایتونو برابرې وویشل شي، آیا یوناما په دې نظر ده چې ګواکې ټول ولایتونه یو شانته اړتیاوې لري او یا به دا اړتیاوې بیلې وي؟

**یوناما:** لکه څنګه چې تاسي پوهیږئ د پاریس کنفرانس د مالي مرستو د کنفرانس څخه بیل وو، دا کنفرانس یوازې د هیواد لپاره د مالي مرستو او بسپنو د راغونډولو په هکله نه و. د پاریس د کنفرانس مهم اړخ د

افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژی په هکله چي د افغانستان د لومړیتوبونو او بیلا بیلو سکتورونو سره سم طرح شوي وو، د پاریس په کنفرانس کي نړیوالي ټولني ته وړاندي شو. دا ستراتیژی د پاریس په کنفرانس کي و منل شو او اوس زموږ لپاره په راتلونکو کلونو کي د مرستو د رسولو لپاره یوه تګلاره برابروي. او دهیواد بیلي برخی بیلا بیل اړتیاوي لری.

لکه څنګه چي موضوع د بشري مرستو سره تړاو لري، کله چي یو بیړنی حالت رامنځ ته کیږي نو د ملګرو ملتونو نمانیدګی د افغانستان د حکومت سره یو ځای د داسي یو حالت په اړه پریکړه کوي. د تیري اوونی د غوښتني په حواله، موږ د افغانستان د حکومت په همکاری د نږدي ۴,۵ میلیونو بي وزلو افغانانو لپاره د هیواد په کچه د یو کال لپاره د یوي بلي غوښتني درخواست وکړ. موږ هیله کوو چي د نړیوالي ټولني له خوا څخه دغي غوښتني مثبت ځواب وویل شي. که چیري ستاسو په یاد وي، موږ لومړنی غوښتنه د تیری جنوري په میاشت کي پیل کړه چي د نړیوالي ټولني له خوا څخه په بشپړه توګه ومنل شوه. موږ به وکولای شو چي د هغي غوښتني خوراکي مرستي د سږ کال د اګست د میاشتي تر پای پوري خلکو ته وویشو.

**د پژواک خبری آژانس:** نوموړی د ماشومانو د زیږون او د ماشومانو د مړینو د شمیر په هکله پوښتنه وکړه، دا پوښتنه هغه رپوټ ته اشاره کوي چي هره میاشت د مخنیوونکو ناروغیو له امله نږدي ۶۰۰ ماشومان خپل ژوند له لاسه ورکوي.

**یو ان ایف پی ای:** دلته دوه مسلي دي. زه به هغي مسلي ته اشاره وکړم چي میندي خپل ژوند د ولادت پر مهاله له لاسه ورکوي. دا اندیکس د میندو ۱۶۰۰ مړیني د ۱۰۰،۰۰۰زیږیدون پر اساس څرګندوي. دا هغه منځنی حد دی چي د هیواد په کچه توپیر لري.

بله موضوع د ماشومانو د مړیني په هکله ده. د ماشومانو د مرګ مړیني اندیکس د هرو ۱۰۰۰ زیږیدونو پر سر لګول کیږي. په هیواد کي د ماشومانو د مړیني کچه په لومړی کال کی ۱۶۵/۱۰۰۰ دی.

که چیري ۱۰۰۰ ماشومان پیدا کیږي نو بیا ۱۶۵ ماشومان د هغوي د لومړنی کلیزی نه مخکي خپل ژوند له لاسه ورکوي. دا شمیره د روغتیایي اسانتیاوو د برابرولو سره راکمیږي. دا بیا په خپل یوه اوږده پروسه ده. د دي کار اغیزي به په ۱ یا ۲ کلونو کي رابرسیره نه شي، خو کیدای شي دا غیزي په ۵- ۱۰ او یا هم په زیاته موده کي راسیره شي.

**ویاند:** تاسو ټولو څخه ډیره مننه.